د عامې روغتيا وزارت

# روغتيا اوونيزه

## پرلیـــکه خپـرونه

لومړی پړاو - اووه ویشتمه گڼه

۱۴۴۷-۰۹-۰۹

- د عامې روغتيا وزارت ملي ستراتیژۍ د ارزولو ناسته !
- د ترکيې هېواد شارژدافیر سره د عامې روغتیا وزیر ناسته!
- د روغتیایي همکاریو په موخه د اروپایي اتحادیې استازو سره ناسته!
- یو شمېر مؤسسو سره د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو هوکړې!
- لسگونه روغتیایي کارکوونکو ته د ظرفیت لوړونې په موخه د ټرنینگونو ورکړه!

د ویاندویۍ، اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست






## د I.I.I د عامې روغتیا وزارت د ظرفیت لوړونې ریاست له لوري د مرکز کابل او ولایتونو 30 تنه متخصصو ډاکټرانو ته په بیړنیو حالاتو کې د ژوند ژغورنې (BLS/ACLS) تر سر لیک لاندې ځانګړی روزنیز سیمنار ترسره شو

په دغه روزنیز سیمنار کې دBLS بشپړې نظري لارښوونې او همدارنګه، د ACLS عملي زده کړې وړاندې شوې.
د عامې روغتیا وزارت د ظرفیت لوړونې رئیس، مجیب الرحمن مامونديي د دغه سیمنار ترسره کېدل مهم وبلل او زیاته یې کړه: «هڅه کوو چې دغه پروګرام د هېواد ټولو ولایتونو ته وغځوو، څو روغتیایي کارکوونکي د بیړنیو حالاتو پر مهال غوره او معیاري خدمات وړاندې کړي.

همداراز، د عامې روغتیا وزارت د وقایوي طب لوی رئیس، ډاکټر حیدر خان حیدر وویل: «زموږ هڅه دا ده چې دغه پروګرام لا پراخ کړو او د هېواد ټولو روغتیایي کارکوونکو ته د BLS او ACLS معیاري روزنیز ټرېننګ ورکړو.

## ریاست ارتقاء ظرفیت وزارت صحت‌عامه I.I.I، برای 30 تن از داکتران متخصص از مرکزکابل و ولایات، سیمینار ویژه آموزشی تحت عنوان نجات زنده گی در حالات عاجل (BLS/ACLS)را برگزار کرد

در این سیمینار آموزشی، رهنمودهای کامل نظری BLS و همچنان آموزش‌های عملی ACLSارائه گردید.

مجیب‌الرحمن ماموندزی رئیس ارتقاء ظرفیت وزارت صحت‌عامه، برگزاری این سیمینار را مهم دانسته افزود: «تلاش می‌کنیم این برنامه را به تمام ولایات کشور گسترش دهیم تا کارکنان صحی در حالات عاجل، خدمات بهتر و معیاری را ارائه نمایند.

همچنان داکتر حیدر خان حیدر رئیس عمومی طب وقایوی وزارت صحت‌عامه، گفت: «کوشش ما این است که این برنامه را بیشتر توسعه دهیم و برای تمام کارکنان صحی کشور، آموزش‌های معیاری BLS و ACLS را فراهم نماییم.

**The Capacity Building Directorate of the MoPH conducted a specialized life-saving training seminar (BLS/ACLS) for 30 specialist doctors from Kabul and across the provinces.**

The seminar provided comprehensive theoretical instruction on Basic Life Support (BLS) and practical training on Advanced Cardiovascular Life Support (ACLS).
The Director of the Capacity Building Directorate of the MoPH, Mujeeb-ur-Rahman Mamundzai, described the seminar as important and said the program will be expanded nationwide to strengthen standardized emergency services.
The Director General of Preventive Medicine of the MoPH, Dr. Haider Khan Haider, stated: "Our aim is to further expand this program and provide standardized BLS and ACLS training to healthcare workers across the country."



## د پکتیا ولایت مرکز اړوند سیمو کې له خصوصي روغتیایي سکتور او د خوراکي توکو یو شمېر تاسیساتو څخه د نرخونو کنټرول او احتکار مخنیوي په موخه نظارت ترسره شو

دغه نظارت د پکتیا عامې روغتیا ریاست د څارنې او پلټنې مسؤلینو له لوري ترسره شو، چې پایله کې یې یو درملتون، یو لابراتوار، یو یوناني درملتون او 11 بابه د درملو توریدي شرکتونو او کمپنیو نمایندګۍ له روغتیایي قوانینو څخه د سرغړونې او رسمي جوازونو نه لرلو له امله وتړل شوې.

دغه راز، د یاد نظارت په ترڅ کې 25 کارتنه له نېټې تېر درمل، روغتیایي محصولات او 8 قلمه له نېټې تېر خوراکي توکي راټول او د له منځه وړلو په موخه مرکزي زېرمتون ته ولېږدول شول.

## به‌منظور کنترول قیمت‌ها و جلوگیری از احتکار، از بخش صحی خصوصی و شماری از تأسیسات مواد غذایی در مربوطات مرکز ولایت پکتیا، نظارت صورت گرفت

این نظارت که از طرف مسئولان نظارت و تفتیش ریاست صحت‌عامه پکتیا صورت گرفت در نتیجه آن، یک دواخانه، یک لابراتوار، یک دواخانه یونانی و 11 باب نماینده گی شرکت‌ها و کمپنی‌های تورید ادویه به دلیل تخطی از قوانین صحی و نداشتن جواز رسمی مسدود گردیدند.

همچنان در جریان این نظارت، 25 کارتن ادویه و محصولات صحی تاریخ‌گذشته و 8 قلم مواد غذایی تاریخ گذشته نیز جمع‌آوری و به خاطر از بین بردن به گدام مرکزی انتقال داده شد.

## Inspection Conducted in Central Areas of Paktia Province on Private Health Sector and Food Outlets for Price Control and Preventing Hoarding

This monitoring was carried out by the Inspection and Monitoring officials of the Paktia Public Health Directorate, resulting in the closure of one pharmacy, one laboratory, one Greek pharmacy, and 11 pharmaceutical import companies for violating health regulations and operating without official permits.

During this monitoring, 25 boxes of expired medicines and health products, along with 8 items of expired food, were collected and sent to the central warehouse for disposal.



## خوست ولايت کې د خوراکي توکو له تاسيساتو څخه نظارت ترسره شو

دغه نظارت د ياد ولايت عامې روغتيا رياست د څارنې او پلټنې مسؤلينو له لوري په ګربز ولسوالۍ کې ترسره شو، چې پايله کې يې 22 کارتنه خوراکي توکي راټول او د له منځه وړلو په موخه مرکزي زيرمتون ته ولېږدول شول.

همدارنګه، د څارنې او پلټنې مسؤلينو د خوراکي تاسيساتو مالکانو ته د حفظ‌الصحې اصولو مراعتولو په اړه لازمې سپارښتنې او لارښوونې وکړې.

## از تأسیسات غذایی در ولایت خوست نظارت صورت گرفت

این نظارت از سوی مسوولان نظارت و بررسی ریاست صحت عامه در ولسوالی گربز این ولایت صورت گرفت که در نتیجه آن 22 کارتن مواد غذایی جمع‌آوری و به خاطر از بین بردن به گدام مرکزی این ولایت انتقال داده شد.

همچنان، مسوولان نظارت و بررسی به مالکان تأسیسات غذایی هدایات لازم را در مورد رعایت حفظ‌الصحه سپردند.

## Inspections Conducted at Food Outlets in Khost Province

The inspections were conducted by Public Health Directorate officials in Gurbuz District, resulting in the collection of 22 boxes of food items, which were transferred to the provincial central warehouse for disposal.

Additionally, inspection and monitoring officials provided the necessary guidance to the owners of food establishments regarding compliance with hygiene standards.

Ministry of Public Health

### Health Message!

After eating, food debris may remain between the teeth and contribute to tooth decay; therefore, teeth should be brushed regularly.

Spokesperson, Information & Public Relation Directorate

وزارت صحت عامه

### پیام صحی!

بعد از خوردن غذا، میده‌های غذا در بین دندان‌ها باقی می‌مانند و باعث خرابی آن‌ها می‌گردند؛ لذا دندان‌های خود را بعد از خوردن غذا همیشه برس نمایید.

ریاست اطلاعات، ارتباط عامه و سخنگوی

د عامې روغتيا وزارت

### روغتيايي پيغام!

له خوړو وروسته د خوړو پاتې شوني غاښونو کې پاتې کېږي او د غاښونو د خرابېدو لامل ګرځي؛ نو ځکه تل له خوړو وروسته بايد خپل غاښونه برش کړئ.

د وياند، اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست





## د ۱.۱.۱ د عامې روغتيا وزير ښاغلي مولوي نور جلال جلالي، د عامې روغتيا وزارت ښاغلو مرستيالانو ، عمومي رئيسانو او د تخنيکي څانګو مسؤلينو په شتون کې د عامې روغتيا وزارت د پلان او پاليسۍ لوی رياست له لوري د عامې روغتيا ملي ستراتيژۍ نهايي مسوده د وزارت رهبرۍ ته وړاندې او تشريح شوه

## In the presence of the Minister of Public Health, Mawlawi Noor Jalal Jalali, along with the deputy ministers, directors general, and technical department heads, the Directorate General of Planning and Policy presented and explained the final draft of the National Public Health Strategy to the ministry's leadership.

د عامې روغتيا وزير ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د مجلس په جريان کې وويل" د عامې روغتيا ملي ستراتيژۍ ترتيب او تدوين د روغتيايي سکتور يو مهم او اساسي ضرورت وو ، ښاغلي وزير وويل دا ستراتيژي به د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د روغتيايي سکتور مسؤلينو ته روښانه لارښود وګرځي، څو وکولای شي روغتيايي خدمات په منظم او هدفمند ډول وړاندې کړي او خپل مسير د يو واضح او عملي پلان له مخې تعقيب کړي.

د پلان او پاليسۍ لوی رئيس ډاکټر سيدرسول منګل، د ستراتيژۍ د تدوين پر ميتودولوژۍ رڼا واچوله او څرګنده يې کړه چې دا سند د روغتيا ملي پاليسۍ په رڼا کې د يو منظم او معياري ميتود له مخې ترتيب شوی دی، نوموړي زياته کړه د ستراتيژۍ په جوړولو کې د رهبرۍ مقام تر مستقيم نظارت لاندې 7 ساحوي او تخنيکي کميټو کار کړی او د پرله پسې هڅو او همغږيو په پايله کې دغه سند نهايي شوی دی.

د مجلس په جريان کې د تخنيکي ټيم له لوري د ستراتيژۍ پړاوونه، د هرې ساحې اهداف، ستراتيژيک مقاصد او ستراتيژيکي مداخلې په تفصيل سره تشريح شوې همدارنګه د ستراتيژۍ د لا غني کيدنې په موخه د مجلس ګډونوالو خپل نظريات او وړانديزونه شريک کړل، ټاکل شوې ده چې د دې ملي ستراتيژۍ پر بنسټ به ډېر ژر ستراتيژيک عملياتي او تطبيقي پلان هم ترتيب شي، څو ټاکل شوي اهداف په منظم ډول عملي او تر لاسه شي.

During the meeting, His Excellency Jalali stated that developing the National Public Health Strategy was an essential need for the health sector. He noted that the strategy will guide health officials over the next five years, helping them deliver health services in an organized and goal-oriented manner based on a clear and practical plan.

Dr. Sayed Rasool Mangal, Director General of Planning and Policy, explained the methodology used to develop the strategy. He said the document was prepared using a standardized approach aligned with the National Health Policy. He added that seven sectoral and technical committees worked under the direct supervision of the leadership, and the strategy was finalized through continuous coordination and effort.

During the session, the technical team presented the strategy's phases, sectoral objectives, strategic goals, and key interventions. Participants shared their suggestions to further improve the document. It was also announced that a strategic operational and implementation plan will soon be developed to ensure the effective achievement of the planned objectives.




## د باميان ولايت د کهمرد ولسوالۍ عمومي روغتون د جوړولو افر پرانيستې پروسه ترسره شوه

ياده پروسه د عامې روغتيا وزارت د افر پرانيستې پروسې مسؤلينو او يو شمېر ودانيزو شرکتونو د استازو په شتون کې ترسره شوه.

د عامې روغتيا وزارت د افر پرانيستې پروسې مسؤلينو وويل: دغه پروسه په بشپړه توګه شفافه ده او له هغه شرکت څخه چې بريالی کېږي، هيله لرو کارونه په ټاکلي وخت د عامې روغتيا وزارت له شرطونو سره سم ترسره کړي؛ ځکه چې دا د عامه ګټو پروژه ده او موږ به يې له چارو څخه نظارت هم کوو.

بل لور، د ودانيزو شرکتونو استازو ژمنه وکړه، که په دې پروسه کې بريالي شي، نو د عامې روغتيا وزارت له معيارونو سره سم به د روغتون د جوړېدو چارې ترسره کوي.

د يادونې وړ ده، چې د عامې روغتيا وزارت د هېواد په 318 ولسواليو کې د عمومي روغتونونو د جوړولو پلان لري، چې د يادې پروسې تدارکاتي چارې دوام لري.

## پروسه آفرگشایی اعمار شفاخانه عمومی ولسوالی کهمرد ولایت بامیان برگزار شد

این پروسه با حضور مسوولان پروسه آفرگشایی وزارت صحت‌عامه و نماینده‌گان شرکت های ساختمانی برگزار گردید.

مسوولان پروسه آفر گشایی وزارت صحت‌عامه گفتند: « این پروسه از شفافیت کامل برخوردار بوده و ما از شرکتی که برنده می‌شود خواهان کار بهتر و دقیق به وقت و زمان آن مطابق معیارات وزارت صحت‌عامه را خواهانیم، چون این پروژه عام المنفعه بوده و ما از جریان کار آن نظارت خواهیم کرد.

از سوی‌هم، نماینده‌گان شرکت‌های ساختمانی تعهد سپردند که در صورت برنده شدن در این پروسه، امور ساخت وساز این شفاخانه را مطابق معیارهای وزارت صحت‌عامه اجرا خواهند کرد.

قابل یادآوری است که وزارت صحت‌عامه، پلان اعمار شفاخانه‌های عمومی را در 318 ولسوالی کشور دارد و کارهای تدارکاتی این پروسه جریان دارد.

**Bid Opening Held for General Hospital in Kahmard District of Bamyan Province**

The process was conducted in the presence of officials from the Offer Opening Committee of the MoPH and representatives from several construction companies.

Offer Opening Committee Officials stated, "This process is fully transparent, and we expect the company that takes over the project to carry out their work promptly, in line with the guidelines and conditions set by MoPH. As this is a public project, we will closely monitor every step of its implementation."

The construction company representatives pledged that, if they take over the project, they would adhere to the guidelines and conditions of the Ministry of Public Health while carrying out the work.

It is important to highlight that the Ministry of Public Health is undertaking an extensive nationwide initiative to establish general hospitals across all 318 districts, with the procurement processes for this large-scale project actively progressing.



## Ministry of Public Health Signs $10,349,099 Agreement with HealthNet TPO to Expand Health Services in Paktia

The 1.5-year agreement will provide basic and specialized healthcare services to residents of Paktia through BPHS centers, aiming to improve access to essential health services.

This project will create employment opportunities for approximately 1,538 people across various health-related fields.

Officials from the Ministry of Public Health stated that the agreement aims to enhance service quality, increase access to healthcare, and address pressing health challenges. The initiative will deliver essential health services to Paktia residents while also generating job opportunities for 1,538 individuals.

Representatives of HealthNet TPO expressed confidence that the project will be successfully implemented within the planned timeframe, while meeting required standards and prioritizing community health needs.

The Ministry of Public Health reaffirmed its commitment to working closely with national and international partners to strengthen healthcare services and improve health facilities across all provinces of the country.

## عامې روغتیا وزارت له لوري د پکتیا ولایت خلکو لپاره د روغتیایي خدمتونو د پیاوړتیا او پراختیا په موخه له هیلت نیټ TPO مؤسسې سره (10،349،099) لس میلیونه، درې سوه نهه څلوېښت زره او نهه نوي ډالرو په ارزښت تړون لاسلیک شو

دا تړون د یو نیم کال لپاره لاسلیک شو، چې له مخې به يې د بنسټیزوBPHSروغتیايي مرکزونو له لارې د پکتیا ولایت اوسېدونکو ته بنسټیز او تخصصي روغتیايي خدمتونه وړاندې کېږي.

همدارنګه،د يادې پروژې په پلي کېدو سره به شاوخوا 1538 تنو ته په بېلا بېلو روغتیايي برخو کې د کار زمینه هم برابره شي.

د عامې روغتیا وزارت مسؤلینو وویل، یاد تړون د روغتیایي خدمتونو د کیفیت لوړولو، لاسرسي زیاتولو او د ولس د روغتیايي ستونزو کمولو په موخه لاسلیک شو، چې په پلي کېدو سره به يې د پکتیا ولایت اوســـېدونکي له اساسي روغتیايي خدماتو برخمن او 1538 تنو ته به د کار زمینه هم برابره شي.

بل لور، د هیلت نیټ TPO مؤسسې استازو هم ډاډ څرګند کړ، چې یاده پروژه به د یو نیم کال په ترڅ کې د ټولو ټاکل شویو معیارونو سره سم پلي کړي او د خلکو د روغتیايي اړتیاوو پوره کولو ته به ځانګړې پاملرنه کوي.

د یادونې وړ ده، د عامې وزارت ژمن دی چې د هېواد په ټولو ولایتونو کې د روغتیايي خدمتونو د لا ښه والي او خلکو ته د روغتیايي اسانتیاوو برابرولو په موخه له ملي او نړیوالو مؤسسو سره همکارۍ ته دوام ورکړي.





## د عامې روغتیا وزارت د معالجوي طب لوی رئیس، ډاکټر وحدت الکوزي د تخصصي او ثالثي روغتونونو له رئیسانو سره د 1405 مالي کال لپاره د تخصصي روغتونونو اړوند طبي تجهیزاتو، درملو او مصرفي موادو برابرولو په موخه ناسته تر سره کړه

په دې ناسته کې ډاکټر وحدت الکوزي د 1405 مالي کال لپاره د کافي پراختیایي بودجې پر موجودیت ټینګار وکړ او د روغتونونو له رئیسانو یې وغوښتل، چې خپلې اړتیاوې پر وخت شریکې کړي؛ څو یې تدارکاتي بهیر په همغږۍ تر سره او د روغتیایي خدمتونو کیفیت لوړ شي.

همدارنګه، د معالجوي طب لوی رئیس د خدمتونو د کیفیت لوړولو په موخه لازمي لارښوونې او د رهبرۍ هدایات له رئیسانو سره شریک کړل، تر څو د خدمتونو ښه والي او د ناروغانو اړتیاوو ته اغېزمن ځواب ویلو برخه کې اړین اقدامات تر سره شي.

دغه راز، د تخصصي او ثالثي روغتونونو رئیسانو د وزارت د رهبرۍ له پاملرنې څخه د منني تر څنګ ژمنه وکړه، چې د لومړیتوبونو پر اساس به خپلې اړتیاوې په ټاکلي وخت د معالجوي طب لوی ریاست سره شریکوي او ټینګار یې وکړ، چې د تجهیزاتو، درملو او مصرفي موادو پر وخت برابرول کولای شي د روغتیایي خدمتونو د کیفیت په لوړولو او ناروغانو ته په اغېزمنه رسېدنه کې بنسټیز رول ولوبوي.

## داکتر وحدت الکوزی، رئیس عمومی طب معالجوی وزارت صحت‌عامه، نشستی را با رئیسان شفاخانه های تخصصی و ثالثی در مورد نیازمندی‌های تجهیزات طبی، ادویه، مواد مصرفی و سایر ضروریات این شفاخانه‌ها برای سال مالی 1405، برگزار کرد

داکتر وحدت الکوزی، ضمن تأکید بر موجودیت بودجه انکشافی کافی در سال مالی 1405، از رئیسان شفاخانه ها خواست تا نیازمندی‌های خود را به‌موقع شریک نمایند تا روند تهیه امکانات به‌صورت هماهنگ اجرا شده و کیفیت خدمات صحی بهبود یابد.

همچنان، در این نشست رئیس طب معالجوی، هدایات لازم را در مورد بهبود کیفیت خدمات ارائه نموده و هدایات مقام رهبری را نیز با رئیسان شریک ساخت تا در راستای بهبود خدمات و پاسخ گویی مؤثر به نیازهای بیماران، اقدامات لازم صورت گیرد.

از سوی هم، رئیسان شفاخانه‌های تخصصی و ثالثی ضمن قدردانی از توجه رهبری وزارت به نیازمندی‌های مراکز صحی، تعهد سپردند که فهرست دقیق و اولویت‌بندی‌شده نیازمندی‌های خویش را در زمان معین با ریاست عمومی طب معالجوی شریک نمایند و تأکید نمودند که تأمین به‌موقع تجهیزات، ادویه و مواد مصرفی می‌تواند نقش اساسی در ارتقاء کیفیت خدمات صحی و رسیده‌گی مؤثر به بیماران داشته باشد.

**Dr. Wahdat Alokozai, Director General of Curative Medicine of the MoPH, held a meeting with the heads of specialized and tertiary hospitals to discuss the provision of medical equipment, medicines, and consumables for the 1405 fiscal year.**

Alokozai emphasized the availability of sufficient development budget for the 1405 fiscal year and urged hospital heads to timely share their needs for coordinated procurement and improved health service quality.

The General Director of Curative Medicine provided necessary instructions to improve service quality and shared leadership guidelines with the hospital heads to ensure effective action in improving services and responding to patient needs.

The directors of specialized and tertiary hospitals thanked the Ministry's leadership and pledged to share their needs with the General Directorate of Curative Medicine on time, emphasizing that timely provision of equipment, medicines, and consumables is key to improving service quality and meeting patient needs.





## د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتيا وزير ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د ترکيې هېواد د روغتيا برخه کې يوه خيريه بنسټ له مسؤلينو سره ليدنه ترسره کړه

په دې ليدنه کې د ترکيې د ياد خيريه بنسټ مسؤلينو څرگنده کړه، چې موخه يې په افغانستان کې د کوچنيانو د قلبي ناروغيو درملنې او همدارنگه د عمومي روغتيا تر څنگ د ځينې ابتدايي خدمتونو په رضاکارانه توگه وړاندې کول دي.

ښاغلي وزير د ياد بنسټ له نېک نيت او د افغانستان د روغتيا سکتور سره د همکارۍ څخه مننه وکړه او ويې ويل، " د عامې روغتيا وزارت هڅه کوي څو خپل روغتيايي پرسونل ته لا ډېرې مسلکي روزنې برابرې کړي او د هېوادوالو د اړتياوو او غوښتنو په پام کې نيولو سره اغېزمن روغتيايي خدمتونه وړاندې کړي" نوموړي زياته کړه، د روغتيايي کارکوونکو د ظرفيت لوړونه او روزنه د وزارت له مهمو لومړيتوبونو څخه ده، همدارنگه ښاغلي وزير د معالجوي طب مسؤولينو ته لارښوونه وکړه، تر څو له ياد خيريه بنسټ سره د مسلکي او تخنيکي ظرفيتونو د لوړولو په برخه کې لازمې همغږۍ او اسانتياوې برابرې کړي.

له بلې خوا، د ترکيې د خيريه بنسټ مسؤلينو د دوامدارې همکارۍ ژمنه وکړه او څرگنده يې کړه، چې هڅه به وکړي يو شمېر مسلکي کادرونه افغانستان ته راولي تر څو د ځانگړو روزنيزو پروگرامونو او ټرينينگونو په برخه کې د عامې روغتيا وزارت سره همکاري وکړي.

د عامې روغتيا وزارت مشرتابه د هغو ټولو بنسټونو او ادارو له همکاريو هرکلی کوي، چې د هېواد د روغتيايي خدمتونو د پياوړتيا او د افغانانو د غوره روغتيايي وضعيت د تأمين په برخه کې همکاري کوي.

## In his official office, Mawlawi Noor Jalal Jalali, Minister of Public Health of the IEA, held a meeting with officials of a Turkish charity foundation operating in the health sector.

Officials of the Turkish charity foundation stated that their goal is to provide voluntary treatment for children with heart comdition in Afghanistan and to offer some primary healthcare services.

His Excellency Jalali thanked the foundation for its cooperation with Afghanistan's health sector and said, "The Ministry of Public Health aims to provide more professional training to its staff and deliver effective healthcare services based on the people's needs." He added that strengthening the capacity of healthcare workers is a top priority and instructed curative medicine officials to coordinate with the foundation to enhance professional and technical skills.

Officials of the Turkish charity foundation pledged continued cooperation and said they will send professional staff to Afghanistan to support the Ministry of Public Health in specialized training programs.

The Ministry of Public Health welcomes all organizations that help strengthen healthcare services and improve the health of the Afghan people.







## د سمنګان ولایت عامې روغتیا ریاست له لوري د ټولنې په کچه 40 روغتیایي کارکوونکو ته درې ورځنۍ روزنیز ټرېننګ ترسره شو

دا ټرېننګ چې د مسلکي ظرفیت لوړولو او د روغتیایي خدمتونو د کیفیت ښه والي په موخه تر سره شو، په کې مهم موضوعات د مجربو استادانو له لوري وړاندې شول.

همدارنګه، د سمنګان ولایت د عامې روغتیا ریاست مسؤلینو د ټولنې په کچه د روغتیایي کارکوونکو د فعالیتونو ستاینه وکړه او ټینګار یې وکړ، چې د ټرېننګ په ترځ کې زده کړې موضوعات په خپلو کار ځایونو کې پلي کړي.

## یک برنامه آموزشی سه‌روزه برای 40 تن از کارکنان صحی جامعه از طرف ریاست صحت عامه ولایت سمنگان برگزار گردید

این برنامه که به هدف ارتقاء ظرفیت مسلکی و بهبود کیفیت عرضه خدمات صحی برگزار گردید در آن، موضوعات مهم و کاربردی توسط استادان مجرب ارایه گردید.

همچنان در اخیر این برنامه، مسوولان ریاست صحت عامه ولایت سمنگان ضمن قدردانی از فعالیت‌های رضاکارانه کارکنان صحی جامعه، بر تطبیق این آموخته‌ها در ساحات کاری تأکید نمودند.

## Samangan Public Health Directorate Conducts Three-Day Training for 40 Community Health Workers

The training, aimed at enhancing professional capacity and improving healthcare service quality, covered key topics delivered by experienced instructors.

Officials of the Samangan Public Health Directorate praised the performance of community health workers and emphasized that the topics learned during the training should be applied in their workplaces.








## Ministry of Public Health Signs $9,106,050 Agreement with HealthNet TPO to Expand Health Services in Kunar

The 1.5-year agreement will provide basic and specialized healthcare services to residents of Kunar through BPHS centers, aiming to improve access to essential health services.

This project will create employment opportunities for approximately 1,516 people across various health-related fields.

Officials from the Ministry of Public Health stated that the agreement aims to enhance service quality, increase access to healthcare, and address pressing health challenges. The initiative will deliver essential health services to Kunar residents while also generating job opportunities for 1,516 individuals.

Representatives of HealthNet TPO expressed confidence that the project will be successfully implemented within the planned timeframe, while meeting required standards and prioritizing community health needs.

The Ministry of Public Health reaffirmed its commitment to working closely with national and international partners to strengthen healthcare services and improve health facilities across all provinces of the country.

## د عامې روغتیا وزارت له لوري د کونړ ولایت خلکو لپاره د روغتیايي خدمتونو د پیاوړتیا او پراختیا په موخه له هیلت نیټ TPO مؤسسې سره(9106050) د نهه میلیونه یو سل شپږ زره او پنځوس ډالرو په ارزښت تړون لاسلیک شو

دا تړون د یو نیم کال لپاره لاسلیک شو، چې له مخې به یې د بنسټیزو BPHS روغتیايي مرکزونو له لارې د کونړ ولایت اوسېدونکو ته بنسټیز او تخصصي روغتیايي خدمتونه وړاندې کېږي.

همدارنګه، د یادې پروژې په پلي کېدو سره به شاوخوا 1516 تنو ته په بېلا بېلو روغتیايي برخو کې د کار زمینه هم برابره شي.

د عامې روغتیا وزارت مسؤلینو وویل، یاد تړون د روغتیايي خدمتونو کیفیت لوړولو، لاسرسي زیاتولو او د ولس د روغتیايي ستونزو کمولو په موخه لاسلیک شو، چې په پلي کېدو سره به یې د کونړ ولایت اوسېدونکي له اساسي روغتیايي خدماتو برخمن او 1516 تنو ته به د کار زمینه هم برابره شي.

بل لور، د هیلت نیټ TPO مؤسسې استازو هم ډاډ څرګند کړ، چې یاده پروژه به د یو نیم کال په ترځ کې د ټولو ټاکل شویو معیارونو سره سم پلي کړي او د خلکو د روغتیايي اړتیاوو پوره کولو ته به ځانګړې پاملرنه کوي.

د یادونې وړ ده، د عامې وزارت ژمن دی چې د هېواد په ټولو ولایتونو کې د روغتیايي خدمتونو لا ښه والي او خلکو ته د اسانتیاوو برابرولو په موخه له ملي او نړیوالو مؤسسو سره همکارۍ ته دوام ورکړي.





## د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نورجلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د ترکیې هېواد له شارژدافیر ښاغلي سادین ایلد سره ولیدل

په دې لیدنه کې د عامې روغتیا وزیر ښاغلي مولوي نور جلال جلالي له افغانستان سره د ترکیې هېواد د روغتیایي همکاریو مننه وکړه او و یې ویل: «د افغان روغتیایي کارکوونکو روزنه، د زړه ولادي نقیصه لرونکو ماشومانو درملنې ته د روغتیایي امکاناتو زیاتوالی، د ولسوالیو په کچه د عمومي روغتونونو جوړېدنې او ورته د اړینو تجهیزاتو برابرولو، په مرکز کابل کې د کوچنیانو د عصبي جراحي خدماتو پیل او پیاوړتیا هغه مهمې برخې دي، چې د ترکیې هېواد همکارۍ ته اړتیا لري».

نوموړي همدارنګه زیاته کړه چې د ترکیې هېواد درمل د افغانستان لپاره ګټور دي، خو ټینګار یې وکړ چې کیفیت او مناسب قیمت باید په پام کې ونیول شي.

بل لور ته د ترکیې هیواد شارژدافیر ډاډ ورکړ، چې هېواد به یې د افغانستان د روغتیا سکتور سره خپلو همکاریو ته دوام ورکړي او هڅه کوي، چې د عامې روغتیا وزارت د اړتیاوو له مخې لازم تجهیزات او امکانات برابر کړي، هغه له وزارت څخه وغوښتل، چې د اړتیا وړ تجهیزاتو او امکاناتو لېست ورسره شریک کړي، څو په دې برخه کې عملي همکاري نوره هم پراخه شي.

## محترم مولوی نورجلال جلالی وزیر صحت‌عامه ا.ا.ا، با آقای سادین ایلد شارژدافیر کشور ترکیه برای افغانستان، در دفتر کارش دیدار کرد

در آغاز این دیدار، محترم وزیر صحت‌عامه، از همکاری‌های کشور ترکیه در بخش صحت به افغانستان ابرازقدردانی نموده گفت: «آموزش کارکنان صحی افغان، افزایش امکانات صحی برای تداوی اطفال مبتلا به نقایص مادرزادی قلب، اعمار شفاخانه‌های عمومی در سطح ولسوالی‌ها و تجهیز آن‌ها با وسایل مورد نیاز، آغاز و تقویت خدمات جراحی عصبی اطفال در مرکز کابل از بخش‌های مهمی‌اند که نیازمند همکاری کشور ترکیه می‌باشند.

محترم وزیر صحت‌عامه افزود که، ادویه تولید کشور ترکیه برای افغانستان مفید است، اما تأکید کرد که کیفیت و قیمت مناسب آن باید مورد توجه قرار گیرد.

از سوی‌هم، شارژدافیر ترکیه اطمینان داد که کشورش به همکاری‌های خود با سکتور صحت افغانستان ادامه خواهد داد و تلاش می‌کند مطابق نیازهای وزارت صحت‌عامه، تجهیزات و امکانات لازم را فراهم سازد. وی از این وزارت خواست تا فهرست تجهیزات و امکانات مورد نیاز را با کشور ترکیه شریک نمایند تا همکاری‌های عملی در این بخش بیشتر گسترش یابد

## The Minister of Public Health of the Islamic Emirate of Afghanistan, Mawlawi Noor Jalal Jalali, met in his office with the Chargé d'Affaires of Turkey to Afghanistan, Mr. Sadin Ay Yildiz.

At the beginning of the meeting, His Excellency Jalali expressed his appreciation for Turkey's cooperation with Afghanistan in the health sector. He stated that key areas requiring Turkey's support include the training of Afghan healthcare workers, expanding medical services for children with congenital heart defects, constructing district-level general hospitals and providing them with necessary equipment, and launching and strengthening pediatric neurosurgery services in Kabul. He also noted that Turkish medicines are beneficial for Afghanistan, while emphasizing that their quality and reasonable pricing must be ensured.

The Turkish Chargé d'Affaires reaffirmed his country's commitment to continuing cooperation with Afghanistan's health sector. He stated that Turkey will strive to provide the necessary equipment and facilities in line with the Ministry of Public Health's needs. He also requested the Ministry to share a list of required equipment and resources to further expand practical cooperation in this area.




## نشست آگاهی‌دهی تحت عنوان «نقش علما، نخبگان جامعه، وکلای گذر و رئیسان شوراها در وقایه از مواد مخدر» در ناحیه (22) شهر کابل برگزار گردید

## Awareness Session on Role of Religious and Community Leaders in Narcotics Prevention Held in Kabul's District 22

هدف این نشست، تقویت نقش بزرگان و افراد با نفوذ اجتماعی در پیشگیری از گرایش جوانان به مواد مخدر می‌باشد.

در این نشست، بر تأثیر سخنان علما و نخبگان از دید دینی، روان‌شناسی و اجتماعی تأکید شد و بیان گردید که این قشرها می‌توانند با آگاهی‌دهی، شناسایی افراد آسیب‌پذیر و معرفی آنان به مراکز حمایتی، نقش مؤثر در وقایه داشته باشند. همچنان در مورد روند معرفی و بستر نمودن مریضان معلومات ارائه گردید.

در پایان این نشست، به پرسش‌های اشتراک‌کننده‌گان پاسخ داده شد و بر همکاری همگانی در مبارزه با مواد مخدر تأکید به عمل آمد.

The aim of the session is to strengthen the role of community elders and influential figures in preventing youth from turning to narcotics.

During the session, participants emphasized the influence of religious and community leaders from religious, psychological, and social perspectives, noting their role in raising awareness, identifying vulnerable individuals, and referring them to support centers. Information on the referral and admission process was also provided.

The session was concluded with the participants' questions answered, and the importance of collective cooperation in combating narcotics was emphasized.

وزارت صحت عامه

### پیام صحی!

در هنگام معاینه تمام مشکلات صحی خویش را به داکتر تان بگوئید و به سوالات جواب درست بدهید، تا بهتر تداوی شوید.

ریاست اطلاعات، ارتباط عامه و سخنگوی

د عامې روغتیا وزارت

### روغتیايي پیغام!

د معاینانو پر مهال خپلې ټولې روغتیايي ستونزې ډاکټر ته ووایاست او د ډاکټر له لوري کېدونکو پوښتنو ته سم ځوابونه ورکړئ، تر څو مو غوره درملنه وشي.

د ویاند، اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**During check-ups, tell your doctor about all your health concerns and answer their questions honestly so you can receive the best treatment.**

Spokesperson, Information & Public Relation Directorate





## Ministry of Public Health Technical Team Discusses Health Sector Priorities and Ongoing Cooperation with European Union Delegation in Afghanistan

During the meeting, both sides reviewed ongoing cooperation and discussed strategic priorities for Afghanistan's health sector, including non-communicable diseases, cancer, mental health, substance use, maternal and child health, nutrition, WASH, procurement challenges, disease preparedness, and strengthening pharmaceutical regulation to meet international standards, including GMP.

Both sides also emphasized that instead of relying on imported medicines, domestic pharmaceutical production should be strengthened to ensure national health security.

The EU expressed support and stated its readiness to assist in professional training for health workers—especially maternity, physiotherapists, and other specialists—and in creating job opportunities for youth.

The European Union reaffirmed its long-term commitment to Afghanistan's health system, providing around $100 million in development funding and an additional $60–70 million in humanitarian health aid.

Both sides pledged to continue cooperating to strengthen Afghanistan's health system, ensure sustainable funding, and align with the national health strategy.

## د عامې روغتیا وزارت تخنیکي ټیم د افغانستان لپاره د اروپايي ټولنې پلاوي سره په لیدنه کې د روغتیايي سکتور پر لومړیتوبونو او روانو همکاریو بحث او خبرې وکړې

په دغه لیدنه کې د دواړو لورو ترمنځ د روانو همکاریو بیاکتنې، د افغانستان د روغتیايي سکتور پیاوړتیا لپاره پر ستراتیژیکو لومړیتوبونو، د غیر ساري ناروغیو، په ځانګړي ډول سرطان، رواني روغتیا او نشه يي توکو د کارونې ستونزو، د میندو او ماشومانو روغتیا، تغذیې، اوبو، حفظ الصحې (WASH) ، د سرحدي ستونزو له امله د تدارکاتو پر وړاندې د شته ننګونو او د حل پر عملي لارو، د ناروغیو د چمتووالي او څارنې سیستمونو پر پیاوړتیا او همدارنګه، د درملو د تنظیم او کنټرول سیستمونو د ښه والي او نړیوالو معیارونو، په ځانګړي ډول د ښه تولید معیارونو (GMP) ته د رسېدو پر اړتیا بحث او خبرې ترسره شوې

دغه راز، دواړو لورو ټینګار وکړ چې د درملو د وارداتو پر ځای باید د کورني درمل جوړونې ظرفیت پیاوړی شي؛ څو ملي روغتیايي خوندیتوب تضمین شي.

اروپايي ټولنې د ملاتړ لېوالتیا وښوده او ویې ویل، چې د روغتیايي کارکوونکو مسلکي روزنې، په ځانګړي ډول د قابلو، فیزیوتراپیستانو او نورو متخصصینو د ظرفیت لوړولو او ځوانانو ته د کاري فرصتونو برابرولو برخه کې همکارۍ ته چمتو دي.

همدارنګه، اروپايي ټولنې د افغانستان روغتیايي سیستم سره خپله اوږد مهاله ژمنتیا بیا تازه کړه او ویې ویل، چې دا ټولنه شاوخوا 100 میلیونه امریکایي ډالره پرمختیايي بودیجه او سربېره پر دې 60 تر 70 میلیونه ډالره بشري روغتیايي مرستې برابروي.

په پای کې ژمنه وشوه، چې دواړه لوري به د افغانستان د روغتیايي سیستم د پیاوړتیا، دوامدار تمویل او د ملي روغتیايي ستراتیژۍ سره د همغږۍ لپاره خپلو همکاریو ته دوام ورکوي.

 

**The Ministry of Public Health conducted three training programs for staff of the Directorate of Information, Public Relations, and Spokesperson on RCCE, SBC, and WASH.**

These trainings were conducted in collaboration with the Health Promotion Department of the Ministry's National Public Health Institute to build the capacity of the Directorate of Information, Public Relations, and Spokesperson staff and improve public messaging in these areas. The closing ceremony was attended by Sheikh Mohammad Tahir Haleem, Chief of Staff of the MoPH; Mawlawi Mohammad Dawood Mansoori, Director of International Relations, and Aid Coordination; Director of Information, Public Relations, and Spokesperson, Dr. Sharafat Zaman; Dr. Abdul Jabar Haider, Head of Health Promotion; and several other officials.

Sheikh Mohammad Tahir Haleem, spoke comprehensively about the importance of staff training and the topics covered, including hygiene, sanitation, and other subjects, and described such programs as beneficial.

He added that, in the light of Islam, we receive valuable guidance on these matters, and following it can protect us from many diseases and their harms.

Mawlawi Mohammad Dawood Mansoori, shared his views on the program and urged participants to continue learning and apply the knowledge in their personal and professional lives.

Dr. Abdul Jabar Haider, said the goal is to properly implement the programs in the community for effective message delivery, and efforts in this regard will continue.

**د عامې روغتیا وزارت د ویاندویۍ، اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست کارکوونکو ته د خطر مفاهمې او ټولنې ښکېلتیا (RCCE) ، د ټولنیز سلوک بدلون (SBC) او د اوبو، حفظ الصحې او نظافت (WASH) اړوند درې روزنیز ټرېننگونه ورکړل شو**

دغه ټرېننگونه د یاد وزارت عامې روغتیا ملي انستیتیوټ د روغتیا ارتقاء امریت په همکارۍ د ویاندویۍ، اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست د کارکوونکو ظرفیت لوړونې او ولس ته په یادو برخو کې د ښه پیغام رسونې په موخه تر سره شو، چې پای مراسمو کې یې د عامې روغتیا وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس الحاج شیخ محمد طاهر حلیم، د نړیوالو اړیکو، مرستو د همغږۍ او انسجام رئیس مولوي محمد داوود منصوري، د وزارت ویاند او د عامه اړیکو رئیس ډاکټر شرافت زمان، د روغتیا ارتقاء امر ډاکټر عبدالجبار حیدر او یو شمېر نورو مسؤلینو شتون درلود.

د عامې روغتیا وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس الحاج شیخ محمد طاهر حلیم د کارکوونکو د روزنې پر ارزښت، د حفظ الصحې، نظافت او نورو تدریس شویو موضوعاتو اړوند هر اړخیزې خبرې وکړې او د داسې برنامو تر سره کول یې ګټور وبلل.

نوموړي زیاته کړه، د اسلام مبارک دین په دې اړه مونږ ته خورا ارزښتمنې سپارښتنې او لارښوونې لرې، چې په پام کې نیولو او عملي کولو سره یې له ډېرو ناروغیو او له امله یې د پېښېدونکو ضررونو څخه ژغورل کېږو.

همدارنګه، د عامې روغتیا وزارت د نړیوالو اړیکو، مرستو د همغږۍ او انسجام رئیس مولوي محمد داوود منصوري د یاد ټرېننګ اړوند خپل نظر شریک او له ګډونوالو څخه یې د دوامداره زده کړې او په ژوند او کاري چاپېریال یې کې د عملي کولو غوښتنه وکړه.

ورته مهال، د روغتیا ارتقاء امر ډاکټر عبدالجبار حیدر په خپلو خبرو کې وویل: زمونږ موخه په ټولنه کې د ذکر شویو ټرېننګونو او برنامو په سمه توګه تطبیق دی؛ څو لا په سمه توګه پیغامونه ورسول شي او دې برخه کې به خپلې هڅې جاري ساتو.



## Ministry of Public Health Signs $492,328 Agreement with Afghan Youth Services Organization (AYSO) to Strengthen Health Services in Ghor and Badghis

## د عامې روغتيا وزارت له لوري د غور او بادغيس ولايتونو اوسېدونکو لپاره د روغتيايي خدمتونو پياوړتيا او پراختيا په موخه له AYSO مؤسسې سره(492،328) د څلور سوه دوه نوي زره او درې سوه اته ويشت ډالرو په ارزښت تړون لاسليک شو

The agreement was signed for over one year and will provide nutrition-related health services to the residents of Ghor and Badghis provinces through Basic Health Centers (BHCs).

This project will create employment opportunities for approximately 49 people across various health-related fields.

Officials from the Ministry of Public Health said the agreement was signed to improve the quality of health services, increase access, and reduce public health issues. Once implemented, it will provide nutrition-related services to 440,000 residents of Ghor and Badghis and create healthcare job opportunities for 49 people.

Representatives of AYSO expressed confidence that the project will be successfully implemented over the planned period, meeting all standards and prioritizing the health needs of the community.

The Ministry of Public Health reaffirmed its commitment to working closely with national and international partners to strengthen healthcare services and improve health facilities across all provinces of the country.

دا تړون د څه باندې يو کال لپاره لاسليک شو، چې له مخې به يې د بنسټيزو (BHC) روغتيايي مرکزونو له لارې د غور او بادغيس ولايت اوسېدونکو ته د تغذيې اړوند روغتيايي خدمتونه وړاندې
کېږي.

همدارنگه، د يادې پروژې په پلي کېدو سره به شاوخوا (49) تنو ته د کار زمينه هم برابره شي.

د عامې روغتيا وزارت مسؤلينو وويل، ياد تړون د روغتيايي خدمتونو کيفيت لوړولو، لاسرسي زياتولو او د ولس روغتيايي ستونزو کمولو په موخه لاسليک شو، چې په پلي کېدو سره به يې د غور او بادغيس ولايت (440000) تنه اوسېدونکي د تغذيې اړوند خدماتو برخمن او 49 تنو ته به په روغتيايي برخه کې د کار زمينه هم برابره شي.

بل لور، د AYSO مؤسسې استازو هم ډاډ څرگند کړ، چې ياده پروژه به د څه باندې يو کال په ترڅ کې د ټولو ټاکل شويو معيارونو سره سم پلي کړي او د خلکو روغتيايي اړتياوو پوره کولو ته به ځانگړې پاملرنه کوي.

د يادونې وړ ده، د عامې روغتيا وزارت ژمن دی چې د هېواد په ټولو ولايتونو کې د روغتيايي خدمتونو لا ښه والي او خلکو ته د اسانتياوو برابرولو په موخه له ملي او نړيوالو مؤسسو سره همکارۍ ته دوام ورکړي.





## د روږدو درملني ملي برنامې ریاست د نورستان ولایت د روږدو درملنې شل بستریز روغتون د عامه پوهاوي ټیم له لوري د «مانده» کلي په جومات کې د نشه يي توکو د کاروني مخنیوي په موخه د عامه پوهاوي پروګرام ترسره شو

د دې پروګرام موخه د خلکو، په ځانګړې توګه د ځوانانو د پوهاوي کچې لوړول وو؛ څو هغوی د نشه يي توکو د کاروني له امله د رامنځته کېدونکو روغتیايي، رواني، ټولنیزو او اقتصادي زیانونو په اړه معلومات تر لاسه کړي. په دغه پروګرام کې ګډونوالو ته د نشه يي توکو د ډولونو، د هغو د زیانمنو اغېزو، د روږدیتوب د ناوړه پایلو او د مخنیوي لارو چارو په اړه معلومات وړاندې شول.

په پای کې ټینګار وشو، چې د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزه د ټولو ګډې همکارۍ ته اړتیا لري او د عامه پوهاوي پروګرامونو دوام کولای شي، د یوې سالمې او له روږدیتوب څخه پاکې ټولنې په رامنځته کولو کې مهم رول ولوبوي.

## ریاست برنامه ملی تداوی معتادین از طریق تیم آگاهی‌دهی مرکز تداوی معتادین بیست بستر ولایت نورستان، برنامه آگاهی‌دهی را در مورد استعمال مواد مخدر در مسجد قریه مانده برگزار کرد

هدف این برنامه، بلند بردن سطح آگاهی مردم به‌ویژه جوانان در مورد زیان‌های صحی، روانی، اجتماعی و اقتصادی ناشی از استعمال مواد مخدر می‌باشد که برای اشتراک‌کننده‌گان در مورد انواع مواد مخدر، اثرات زیان‌بار آن، پیامدهای ناگوار اعتیاد و راه‌های پیشگیری معلومات ارائه گردید.

در پایان تأکید شد که، مبارزه با مواد مخدر نیازمند همکاری همگانی است و تداوم برنامه‌های آگاهی‌دهی می‌تواند در ایجاد جامعه‌ای سالم و عاری از اعتیاد نقش مهمی داشته باشد.

## The Directorate of the National Addiction Treatment Program, through the Public Awareness Team of the 20-Bed Drug Treatment Hospital in Nuristan, conducted a public awareness program aimed at preventing drug use at the mosque in Manda village

The purpose of this program was to raise public awareness, especially among the youth, so that they could learn about the health, psychological, social, and economic constraints caused by drug use. Participants in the program were provided with information on the types of drugs, their harmful effects, the adverse effects of addiction, and ways to prevent it.

In conclusion, it was emphasized that fighting drug use requires collective cooperation, and ongoing public awareness programs are key to building a healthy, addiction-free society.





## د بغلان ولایت مرکز پلخمري ښار کې د روغتیایي خدماتو ښه والي په موخه له یو شمېر خصوصي کتنځایونو څخه نظارت تر سره شو

د بغلان ولایت عامې روغتیا ریاست د روغتیایي قوانینو د تطبیق تیم د پالیسیو د عملي کولو او د روغتیایي خدمتونو د کیفیت ارزونې په موخه د پلخمري ښار له یو شمېر کتنځایونو څخه هر اړخیز نظارت تر سره کړ.

په دې نظارت کې د ډاکټرانو فزیکي شتون، د مسلکي اصولو او مقرراتو رعایت او له ناروغانو سره د چلند څرنګوالی په بشپړ ډول وڅارل شول، چې له مثبتو ټکو څخه ستاینه وشوه او د ځینو برخو د اصلاح په موخه لازمې لارښوونې وشوې.

## از یک تعداد معاینه خانه ها به خاطر بهبود عرضه خدمات در شهر پلخمری نظارت به عمل آمد

تیم بررسی از تطبیق قوانین صحی ریاست صحت‌عامه ولایت بغلان، به خاطر تطبیق پالیسی‌ها و ارزیابی کیفیت عرضه خدمات صحی از یک تعداد معاینه خانه های شخصی در شهر پلخمری نظارت همه‌جانبه نمود.

در جریان این نظارت، حضور فزیکی داکتران و رعایت اصول و مقررات مسلکی، و چگونگی برخورد با مریضان به‌گونه همه جانبه نظارت و بررسی گردید، که از نقاط مثبت تحسین و برای نقاط قابل اصلاح هدایات لازم داده شد.

د عامې روغتیا وزارت

## روغتیایي پیغام!

### ګرانو هېوادوالو!

**که په ماشومانو او لویانو کې لاندې نښې ولیدل شي، کېدای شي په حاد تنفسي انتان اخته وي لکه؛ د پوزې بندېدل یا له پوزې څخه د اوبو راتلل د ستوني درد، ټوخی، ستړیا او د بدن درد.**

دعوت، ارشاد او اړیکو ریاست

وزارت صحت عامه

## پیام صحی!

### هموطنان گرامی!

**اگر علایم زیر در نزد اطفال و بزرگسالان دیده شود، ممکن است به انتان حاد تنفسی مبتلا باشند، مانند: بند شدن بینی یا ریزش آب از بینی، گلو درد، سرفه، خستگی و جان دردی.**

ریاست اطلاعات، ارتباط عامه و سخنگوی





## د عامې روغتيا وزارت د څارنې او پلټنې لوی رئيس ډاکتر عنايت الله عنايت د ياد وزارت د معلوماتي ټکنالوژۍ له رئيس انجنير جاويد وفا سره د EMR سافټوير د لومړنۍ نسخې د لا ښه والي او اغېزمن تطبيق په موخه ناسته ترسره کړه

په دې ناسته کې چې د HMIS امر انجنير ميرويس رحيمي او تخنيکي ټيم شتون درلود، د Electronic Medical Record سافټوير د لومړنۍ نسخې، چې د يوه خصوصي شرکت له لوري وړاندې شوې ده؛ تخنيکي او عملي اړخونه وارزول شول.

همدارنګه، د څارنې او پلټنې لوی رئيس ډاکتر عنايت الله عنايت او تخنيکي ټيم د ياد سافټوير د لا ښه والي، معياري کېدو او اغېزمن تطبيق په موخه خپل نظرونه، تخنيکي سپارښتنې او رغنده وړانديزونه شريک کړل.

## داکتر عنایت الله عنایت، رئیس عمومی نظارت و بررسی وزارت صحت عامه، نشستی را با جاوید وفا، رئیس تکنالوژی معلوماتی این وزارت، به‌منظور بهبود، معیاری‌سازی و تطبیق مؤثر نسخه ابتدایی نرم‌افزار EMR برگزار کرد

در این نشست که میرویس رحیمی، آمر HMIS و تیم تخنیکی نیز حضور داشتند، جوانب تخنیکی و عملی نسخه ابتدایی نرم افزارEMR، که از سوی یک شرکت خصوصی ارائه شده است مورد ارزیابی قرار گرفت.

همچنان، رئیس عمومی نظارت و بررسی و تیم تخنیکی دیدگاه ها، پیشنهادات تخنیکی و نظریات اصلاحی خویش را به منظور بهبود، معیاری‌سازی و تطبیق مؤثر این نرم‌افزار ارائه نمودند.

**Dr Enayatullah Enayat, Director General of Inspection and Monitoring of the MoPH, met with Information Technology Director Engineer Javeed Wafa to improve, standardize, and implement the initial version of the Electronic Medical Record (EMR) software.**

During the meeting, attended by HMIS Head Engineer Mirwais Rahimi and the technical team, the initial version of the EMR software provided by a private company was reviewed for its technical and practical aspects. Dr Enayatullah Enayat and the technical team also shared their insights, recommendations, and constructive suggestions to further improve, standardize, and ensure the effective implementation of the software.

## د عامې روغتيا وزارت د چاپېريال روغتيا رياست مسؤلينو له لوري د کابل ښار په دويمې ناحيې کې له يو شمېر هوټلونو، نانواييو، قصابيو، د خوراکي توکو پلورنځيو او د مخابراتي شرکتونو له انتنونو څخه نظارت ترسره شو



په دغه نظارت کې د هوټلونو، نانواييو، قصابيو، د خوراکي توکو پلورنځيو او د مخابراتي شرکتونو مسؤلينو او کارکوونکو ته د نظافت، حفظ الصحې ساتنې او مضرو وړانګو خونديتوب په موخه اړينې لارښوونې او سپارښتنې وشوې او هم ورته ګڼ روغتيايي معلومات ورکړل شول.

دغه راز، د هوټلونو، نانواييو، قصابيو، د خوراکي توکو پلورنځيو او د مخابراتي شرکتونو کارکوونکو ته د روغتيايي کارتونو اخيستلو په موخه لازمې سپارښتنې وشوې



## د عامې روغتیا وزارت د اکمال تخصص لوی ریاست د ظرفیت لوړونې آمریت له لوري د کابل ښار 14 تخصصي روغتونونو ټریني ډاکټرانو لپاره د طبي اړیکو مهارتونو د پیاوړتیا په موخه یو ورځنۍ ورکشاپ تر سره شو

د ورکشاپ موخه د روغتیایي کارکوونکو مسلکي ظرفیت لوړول او له ناروغانو سره د اغېزمنو، درناوي وړ او حرفوي اړیکو پیاوړتیا وه.
په دې ورکشاپ کې د طبي اړیکو اساسي موضوعات، د اغېزمنو او اخلاقي اړیکو اصول، د بد خبر د معیاري لېږد طریقې، د فعال اورېدو مهارتونه، خواخوږي، په اغېزمنه توګه له ناروغانو څخه پوښتنه کول او د اړیکو خنډونو پېژندنه او د حل لارې چارې یې ګډونوالو ته ور وښودل شوې.
په دې روزنیز پروګرام کې 207 تنه ټریني ډاکټرانو ګډون کړی و، چې د ارزونې د پایلو او د ګډونوالو د نظرونو پر بنسټ، د طبي اړیکو د اهمیت او عملي کارونې په برخه کې د هغوی د پوهاوي کچه لوړه شوې، د فعال اورېدو او خواخوږۍ مهارتونه یې پیاوړي شوي او د روغتیایي ټیمونو ترمنځ همغږي ښه شوې ده.
یاد ورکشاپ د مسلکي ظرفیت لوړونې په برخه کې اغېزمن وارزول شو او تمه کېږي، چې د دغو مهارتونو عملي تطبیق به د روغتیایي خدمتونو کیفیت ښه او د مراجعینو رضایت به زیات کړي.

## ریاست عمومی اکمال تخصص از طریق آمریت ارتقاء ظرفیت، برای داکتران ترینی 14 شفاخانه تخصصی مرکز کابل، ورکشاپ یک‌روزه مهارت‌های ارتباطات طبی را برگزار کرد

هدف این برنامه،ارتقاء ظرفیت مسلکی کارمندان صحی و تقویت روابط مؤثر، محترمانه و حرفه‌ای با بیماران بود.
در این ورکشاپ، مفاهیم اساسی ارتباطات طبی، اصول ارتباط مؤثر و اخلاقی، شیوه‌های معیاری انتقال خبر بد، مهارت‌های گوش‌دادن فعال، همدلی، پرسش‌گری مؤثر و شناسایی موانع ارتباطی و راه‌های حل آن مورد آموزش قرار گرفت.

در این برنامه، 207 تن از داکتران ترینی اشتراک داشتند که بر اساس نتایج ارزیابی و نظریات اشتراک‌کننده‌گان، سطح آگاهی آنان در زمینه اهمیت و کاربرد عملی ارتباطات طبی افزایش یافته، مهارت‌های گوش‌دادن فعال، همدلی تقویت شده و هماهنگی میان تیم‌های صحی بهبود یافته است.

این ورکشاپ درارتقاء ظرفیت مسلکی مؤثر ارزیابی گردیده و انتظار می‌رود تطبیق عملی این مهارت‌ها موجب بهبود کیفیت خدمات صحی و افزایش رضایت مراجعین گردد.

**The Directorate General for Postgraduate Medical Studies, through the Capacity Building Department, conducted a one-day medical communication skills workshop for trainee doctors in 14 specialized hospitals in Kabul.**

The program aimed to enhance healthcare staff's professional skills and enhance respectful, effective patient relationships.
The workshop covered key medical communication concepts, ethical and effective interaction, professional way of sharing bad news, active listening, empathy, effective questioning, and addressing communication barriers.
The program was attended by 207 trainee doctors. Evaluations and feedback showed increased awareness of medical communication, strengthened listening and empathy skills, and improved team coordination.
The workshop was considered effective in enhancing professional capacity, and applying these skills is expected to improve healthcare quality and patient satisfaction.





## د پکتیا ولایت د عامې روغتیا ریاست د څارنې او پلټنې مسؤلینو د خوراکي توکو له عمده او پرچون پلورنځیو، تولیدي کارخونو، د درملو عمده پلورنځیو او نماینده ګیو څخه نظارت کړ

د یاد نظارت په ترڅ کې د کیک او کلچو یوه تولیدي کارخونه د نظافت د نه مراعتولو له امله وتړل شوه. همدارنګه، 73 قلمه خوراکي توکي، 35 کارټنه درمل، 650 کیلو ګرامه خرما او 86 له نېټې تېر او بې کیفیته د چاکلېټو قوطي، چې ټولټال نږدې 3 ټنه کېدل راټول او د له منځه وړلو په موخه مرکزي ګودام ته ولېږدول شول.

## مسوولان نظارت و بررسی ریاست صحت عامه ولایت پکتیا از فروشگاه‌های عمده و پرچون مواد غذایی، کارخانه‌های تولیدی، عمده‌فروشی‌های ادویه و نمایندگی‌ها نظارت نمودند

در جریان این نظارت، یک باب کارخانه تولید کیک و کلچه به دلیل عدم رعایت نظافت مسدود گردید. همچنان 73 قلم مواد غذایی، 35 کارتن ادویه، 650 کیلوگرام خرما و 86 قُطی چاکلیت کینگ تاریخ‌گذشته و بی‌کیفیت که مجموعاً به حدود 3 تُن می رسد، جمع‌آوری و به‌منظور از بین بردن به گدام مرکزی انتقال داده شد.

**Paktia Public Health Directorate officials inspected wholesale and retail food outlets, manufacturing units, medicine wholesalers, and company branches.**

During the inspection, a cake and biscuit manufacturing factory was shut down for failing to maintain hygiene standards. Additionally, 73 food items, 35 boxes of medicines, 650 kilograms of dates, and 86 expired and substandard chocolate boxes—amounting to nearly 3 tons in total—were collected and sent to the central warehouse for disposal.



Ministry of Public Health

The recreational activities for young bedridden patients at the 20-Bed Hospital in Badakhshan Province were conducted under the supervision and guidance of social workers.

Spokesperson, Information & Public Relation Directorate



جریان تمرینات ورزشی بیماران داخل بستر شفاخانه ۲۰ بستر نوجوانان ولایت بدخشان که تحت نظر کارمندان اجتماعی برگزار گردید.

ریاست اطلاعات، ارتباط عامه و سخنگوی

وزارت صحت عامه



د بدخشان ولایت شل بستریز روغتون کې د ځوانو بستر ناروغانو د لوبو بهیر چې د ټولنیزو کارکوونکو تر څارنې او لارښوونې لاندې ترسره شو.

د ویاندویی اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

د عامې روغتیا وزارت